11-03-2020

Växjö kommun

سلامونه او نېکي هیلي!

د عامه روغتیا ادارې پرون د مارچ په ۱۰ نېټه په سویډن کې د ناروغۍ د خپرېدو د خطر کچه د «خورا جدي خطر» کچې ته پورته کړه. د پرون ورځې راهیسې په کرونوبیری ولایت کې د convid-19 (کرونا ویروس) یوه مثبته پېښه ثبت شوې ده. دغه کس د یو بل ولایت وګړی دی خو په موقتي توګه په کرونوبیری کې میشت دی. موږ پوهېږو چې خلکو سره د کرونا ویروس په اړه ډېرې پوښتنې شته دي او د سرپرستانو په حیث تاسو کېدای شي اندېښنه ولرئ.

## د www.vaxjo.se وېبپاڼې له لارې تازه معلومات ترلاسه کړئ

تر دې دمه زموږ په ښوونځیو کې کوم کس د کرونا په ویروس اخته نه دی. د ویکخو کمون په جدي توګه د میکروب د خپرېدو پرمختګ څاري او په مسلسله توګه په وېبپاڼه www.vaxjo.se کې تازه معلومات خپروي. څرنګه چې په روان حالت کې وخت په وخت بدلون رامنځته کېږي نو ستاسو څخه هیله کېږي چې د پورته وېبپاڼې له لارې ځان د روانو چارو څخه باخبر وساتئ او موږ صرف په هغه حالت کې تاسو ته یو نوی بریښنالیک درلېږو چې د نوموړې ناروغۍ د مخنیوې لپاره د عامه روغتیا د ادارې په توصیه او روغتیایي لارښوونو کې قطعي او جدي بدلون رامنځته شي.

## په دې اړه زموږ اقدامات او تدابیر

څرنګه چې سمدستي د انفلونزا د ویروسونو نور ډولونه هم په دوران کې دي، زموږ ښوونځی د ناروغۍ د خپرېدو کچه راکمولو لپاره وقایوي اقدامات عملي کوي. د تنفسي جهاز د انتانونو د مخنیوي په خاطر یو عمده وقایوي تدبیر دا دی چې مخ او سترګو باندې لاس وهلو او په ناروغیو اخته کسانو سره د نږدې تماس څخه ډډه وشي. د کرونا ویروس د راپیدا کېدو سره په عامه وګړو کې د دا ډول معلوماتو خپرولو لپاره په ټینګې سره جدي هلې ځلې روانې دي.

ستاسو څخه هیله کېږئ چې د عامه روغتیا د [د لاسونو د حفظ الصحي لارښوونو](#) ته مراجعه وکړئ.

لکه څرنګه چې وویل شو د ویکخو کمون د عامه روغتیا د ادارې روغتیایي لارښوونې تعقیبوي چې د هغې له مخې ویل کېږي چې د ناروغۍ د مخنیوي له پلوه سمدستي د صحتمندو زده کوونکو لپاره د ښوونځي څخه په کور کې د پاتې کېدو لپاره کوم دلیل او سبب شتون نه لري. د چمتووالي ټولګي، د منځنیو (اساسي) ښوونو ښوونځي، د ځانګړي ښوونځي او د لیسې زده کوونکي چې په بشپړه توګه روغ رمټ او تندرسته وي، باید ښوونځي ته ولاړ شي او په خپلو درسونو کې ونډه واخلي.

د عامه روغتیا د ادارې په وینا هغه زده کوونکي او کارکوونکي چې د خطر سره مخامخ سیمو کې پاتې شوي وي خو د ناروغۍ علایم ونلري، باید د ښوونځي څخه په کور کې پاتې نشي خو باید د ټوخلې، ستونزمن تنفس او تبې په څېر علایمو ته متوجه اوسي. که چېرې داسې علایم ولرئ نو باید په کور کې پاتې شئ او د روغتیایي خدمتونو تأسیساتو سره اړیکه ټینګه کړئ.